# پښتانه د پیسو لپاره اسارت نه قبلوي

(خان عبدالغفار خان)

د بنو تر جرګې وروسته چې د دغې ملي جرګې فیصله یعني د آزاد پښتونستان تشکیل اعلان کړه سو، د هند وایسرای دا خبره ونه منله، چې له پښتنو څخه د پښتونستان او پاکستان په باره کي رایه واخلي، بلکي هغه دمخه تجویز یې تائید کړ، چې د صوبۀ سرحد پښتانه به د پاکستان او هندوستان په خصوص کي رایه ورکوي.

د دې تجویز منطقي نتیجه هم دغه ده، چې د صوبۀ سرحد پښتانه د آزادۍ په عصر کي چې یونو د استقلال نارې وهي هم مجبور دي، چې بیا د نورو غلامي ومني او خپل ملي موجودیت بیا هم په نورو کي محوه کاندي.

پښتنو خو د آزاد ژوندانه منشور خپور کړ، او د ځان لپاره یې یو مستقل دولت وغوښت، مګر د دوی دغه آزادیخواهانه او ډیموکراسي احساس، آیا آزادۍ او ډیموکراسي ساتونکي دولتونه مني که یه؟ دا خبره د غور وړ ده، که منشور اتلس او ډیموکراسي فقط تشي او بې معنی خبري نه وي، نو باید د پښتنو استقلال او د دوی وحدت ومنل سي او که فرضاً دغه د پښتنو ملي او مشترک مقصد دولت برتانیا او د هند دولتونه قبول نه کړي، او دوی بیا اسارت ته مجبور کړي نو به دغه غیر منصفانه او ناوړه اقدام تر ابده د هندوستان دولتونه مشوش کاندي او ځکه چې د آزادۍ احساس په پښتنو کي نه مري، نو به تل دغه د استقلال حرکت جاري وي او د هندوستان هیڅ دولت به د پښتنو سر ځان ته ټیټ نه کړي.

## آزاد پښتونستان به څنګه ژوند وکړای سي؟

سیاسیون او د هند زعماء وایي چې پښتانه یو خوار او غریب قوم دئ او دوی نه سي کولای چې خپل اقتصادي ژوند پخپله وکړي. د دوی مځکي هم داسي اقتصادي منابع نه لري چې دوی دي خپل ژوند په ښه ډول وکړي، نو هم له دې جهته هر وخت پښتانه مجبور دي چې د نورو تابعیت ومني، یعني د هند له دولتو څخه اقتصادي استفاده وکړي، دا استفاده به هم مفته نه وي، څو په پاکستان ګډ نه سي او جزئیت قبول نه کړي، نو دوی ته هیڅ اقتصادي کومک نه ورکول کېږي.

خان عبدالغفار خان لاته وړمه ورځ د دې اشکال په جواب کي یوه خورا ښه پښتني خبره کړېده، دی وایي چې پښتانه د پیسو لپاره د نورو غلامي نه مني، که موږ یو غریب قوم یو، نو دا لازمه نه ده چې هم به غریب یو او هم به مریي یو! که غریبان یو نو لازمه ده چې آزاد سو او په آزادۍ کي خپل قومي افتخارات وساتو.

ډاکټر خان او د صوبۀ سرحد نورو مشرانو هم ویلي دي، چې موږ به تر آخره د پښتونستان د حصول لپاره جهد وکړو، او کورټ به د نورو غلامي پر ځانو ونه منو!

د دوی دا ږغ د ټولو پښتنو ږغ دئ او د افغانستان پښتانه هم د دوی لپاره آزادي او سعادت او آرام ژوند غواړي.

## د رایي اخیستلو سره مقاطعه:

د دولت برتانیا مامورینو چې د پښتونستان ازادي ونه منله، نو په مقابل کي د سرخپوشانو ګوند او هغو پښتنو چې د بنو په جرګه کې د پښتنو د آزادۍ منشور امضاء کړی و، دا اعلان وکړ، چې موږ رایي نه ورکوو او کورټ په رایه ښکاره کولو کي برخه نه اخلو، له ریفرینډم سره مو مقاطعه ده.

دې خبري وضعيت ډېر خړ کړی دئ، ولي که د بنو د جرګې پښتانه (سرخپوشان، خاکساران، ځلمی پښتون، جمعيت العلماء او نور) په دې ريفرينډم يعني رايه اخيستلو کي شامل نه سي، نو به يوازې د نورو پښتنو رايي د اعتماد وړ نه وي او نه به د صوبهٔ سرحد مشکله مسئله فيصله سي. بلکي ښايي چي په آينده کي ډېري بدي نتيجې هم ورکړي.

د افغانستان پښتانه هم دا خبره ډېره د غور وړ ګڼي، ځکه چي د پښتنو وحدت او يوتوب د ايشيا د امنيت او سلامتۍ لپاره يو ضروري عنصر دئ او که فرضاً اوس د برتانيا حکومت دغسي يو طرفه رايه واخلي نو به حقايق پټ پاته سي او دغه دعوا او جنجال به قطع نه سي او د يوې خوا فيصله به حقوقاً هم د منلو وړ نه وي او نه به دا شخړه په فيصله سي، حال دا چي متحده ملل اوس د دنيا آرامي او امنيت غواړي.

## بايد رايي اخيستل وځنډوي:

دا خبره د ټولو پښتنو يوه ملي خبره ده، او هيڅ پښتون له دې حياتي مسئلې څخه سترګي نه سي پټولای. بايد د رايي اخيستلو موعده وځنډول سي او ټولو پښتنو ته وخت ورکړه سي چي دوی يو له بله مفاهمه سره وکړي. که په دغه عجلت او سرعت رايي ګيري وسي ښايي چي د پاکستان په ګټه دي هم تمامه نه سي. ولي چي د پښتنو يوه لويه ډله به دباندي پاته سي او بيا به د پاکستان دولت هم په زحمت ورسره اخته وي. اوس چي پاکستان نوی وجود مومي بايد د دغه دولت مشران د همسايه اقوامو همدردي ځان ته راجلب کړي، که اوس پښتانه پر دغه حال په پاکستان په زور ننه ايستل سي، نو سبا به يې څه حال وي؟ پښتنو چي د لويو مغولو اکبر او اورنګزېب غلامي نه وه قبوله کړې نو به اوس څنګه اسارت قبول کي؟

**د پښتنو وحدت:**

پښتانه په برتانوي هند او بلوچستان کي تقريباً اووه ميليونه نفوس لري، په آزادو سرحداتو کي هم پراته دي، دا ټول نفوس په يوه ژبه، يو تهذيب او يو مشترک مليت لري، د پښتونوالي پر اصولو سم ژوندون کوي.

اوس د برتانيا د دولت په پلان کي دا يو او واحد ملت سره ټوک ټوک کيږي، د صوبهٔ سرحد پښتانه بايد د پاکستان يعني يوه پردي ملت اسارت قبول کي، او د بلوچستان کاکړان او اڅکزي او د پښين قبايل بايد له دوی څخه په بل نامه بېل سي.

دا وضعيت به د ايشيا او هندوستان او پاکستان د آينده لپاره هم ښه نه وي، ځکه چي د پاکستان په غربي خوا کي به يو دايمي اضطراب پاته سي او د دغو دولتو تر منځ به د سياسي تېرګۍ علل موجد سي.

پخپله پښتانه هم غواړي چي تر واحد سياسي عنوان لاندي آزاد پاته سي، د بنو جرګې دا ملي مقصد دنيا ته اعلان کړ، چي پښتون ملت هم لکه د دنيا نور آزاديخواه ملتونه پسله دې د اسارت ژوند نه غواړي.

زموږ پاکستاني ورونه چي د ځان لپاره آزادي او خپلواکي او استقلال او سعادت غواړي په دې عصر کي به د دوی د استقلال يګانه عامل هم دغه وي چي د نورو د آزادۍ احترام وکړي. پښتانه د پاکستان ګاونډيان دي، نه ښايي چي پاکستانيان د دوی ملي احساسات ور مجروح کړي او اسارت ته يې راوبولي، که په آينده کي يو مستقل او خپلواک د پښتنو دولت د ملي وحدت پر اساس د دوی و څنګ ته وي، او له دې دولته سره د خپلوۍ او دوستۍ روابط ولري، تر دې به ښه وي، چي د پښتنو زړونه له دوی څخه تور سي او خوابدي وي، او په زور او قهر دوی د غلامۍ ګړنګ ته ور پوري وهل سي او ښکاره ده چي د دې اقدام آخره نتيجه به پښېماني وي.

دا به څنګه وي، چي د صوبهٔ سرحد پښتانه به تر يوې ادارې او حکومت لاندي وي او د بلوچستان پښتانه به له دوی

څخه بېل تر بل دولت لاندي ژوندون کوي؟
نن ورځ د مسلمان په نامه پاکستان د بنګال مسلمانان له ځانه سره ګڼوي، او دوی نه هېروي، نو پښتانه چي یو او واحد ملت دئ او یو قوم دئ او د ويني او ژبي او کلتور اشتراک په اعلی درجه سره لري، څنګه به سره بېلېږي؟ او څنګه به د پښتونوالي له مقدس عنوانه ځانونه باسي؟ موږ یقین لرو، چي پاکستاني مسلمانان د آزادۍ په خبرو کي د پراخ او ښه احساس خاوندان دي، دوی به د پاکستان آینده سیاست او د همسایګۍ حسنه روابط سره سنجوي، نو به ولي د خپلو همسایه او ګاونډیو پښتنو د استقلال غوښتلو احساسات ور مجروح کوي؟ حال دا چي د پښتنو وحدت د پاکستان لپاره مضر هم نه دئ او په آینده کي به یو آزاد د پښتنو دولت له پاکستانه سره ښه مرسته وکولای سي.

## زموږ د حکومت اقدامات:

د افغانستان ټول ملت له دغو خبرو سره عمیقه دلچسپي لري او زموږ حکومت هم د ملت د دغو احساساتو نماینده او ترجمان دئ. لکه چي معلومه ده د خارجه وزارت په ذریعه د دغو مسایلو په خصوص کي د برتانیا له دولته څخه پوښتني سوي دي او د سرحدي پښتنو د آینده ژوندانه په باره کي توضیحات غوښتل سوي دي. مګر تر اوسه جواب د برتانیا له خوا نه دئ ورکړه سوی.
ځکه چي دا سیاسي پوښتني او ګروېږني د افغانستان د ملت یو قومي او ملي مقصد دئ، او زموږ متبوع حکومت هم زموږ د احساساتو په نماینده ګي اقدام کړی دئ، نو ښایي چي دولت برتانیا په دغو خبرو کي غور وکړي، او د افغانستان د ملت دغه ملي مقاصد هېر نه کړي او زموږ حکومت ته ژر مقنع جواب ووايي او ځکه چي د سرحد اکثرو پښتنو له رايي ورکولو څخه انکار کړی دئ، نو که یکطرفه رایه واخیستله سي، حقوقاً او قانوناً به هم د اعتبار وړ نه وي او د افغانستان ملت به په دغسي یکطرفه اقداماتو قانع نه سي او حقوق به يې محفوظ پاته وي.
موږ د خپلو پښتنو ورونو آزادي او سعادت غواړو او دا آرزو یوه داسي آرزو نه ده چي اوس پيدا سوېده، پښتنو هر وخت آزادي غوښتې ده او که څه هم سیاسي فرضي خطوطو موږ له نورو پښتنو څخه بېل کړي وو، خو روحاً او معناً سره یو وو او د (پښتون) په نامه هم دوی بلل کېده او هم موږ!
د پښتنو یو مشهور متل دئ، چي "اوبه په ډانګ نه بېلېږي" نو موږ هم کورټ خپل ورونه او د دوی مقدرات نه سو هېرولای! او که یوه داسي یکطرفه فیصله وسي چي په هغه د صوبهٔ سرحد او بلوچستان پښتانه قانع نه وي د افغانستان ملت به قناعت ونه مومي، د آزادۍ او دیموکراسۍ ږغونه به تشي ناري وګڼل سي او د بشریت په درد به ونه خوري.

طلوع افغان، ۱۳۲٦ ش، ۸۷ ګڼه، لومړي مخ.